# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**22جدی _سال 1401**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان | صفحه


صدها نفر افغان آزاد شده از محبس حیدر آباد پاکستان، شب گذشته، به قندهار انتقال شد------------------------------1

شاوخوا دوه زره افغان مهاجر وطن ته راستانه شول---------------------------------------------------------------2

بیش از 500 خانواده در ولایات سمنگان وهرات مساعدت نقدی شد-------------------------------------------------3

ګارډین: د ګوابنونو سربېره پاکستان سلګونه افغان کډوال له خپلې خاورې ایستلي دي --------------------------------4

په یونان کې د سمندري ژغورونکو محاکمه -----------------------------------------------------------------5

انسه: پاکستانی لاری چلوونکی د کډوالو د انتقال په تور نیول شوی-------------------------------------------------7

آلمان سیاستوال: مهاجر ماشومان باید له ښوونځي مخکې د آلماني ژبې په زدکړه مکلف شي -------------------------8

آلمان کې د پناه غوښتني شمېرې کرونا مخکې اندازې ته زیاتي شوې ------------------------------------------------9

فرانسه: یو کډوال چې د اورګاډي سر ته ختلی و د بربښنا شارتی له امله مړ شوی----------------------------------10

# متن کامل اخبار

## صدها نفر افغان آزاد شده از محبس حیدر آباد پاکستان، شب گذشته، به قندهار انتقال شد

ویب سایت وزارت




**۳۱۰ نفر افغانهای آزاد شده از محبس حیدر آباد پاکستان، ساعت ۹ شب گذشته، به آمریت سرحدی ریاست امور مهاجرین ولایت قندهار، در سپین بولدک، مواصلت نمودند.**

**به اساس معلوم مات مسوول منبع یادشده، آزاد شده ها ۵۲ خانواده، شامل ۱۳۸ تن و۱۲۷ نفر انفرادی بودند که شامل موسفیدان، جوانان و خورد سال ها بودند.**

**منبع علاوه نمود که افراد مذکور بعد از عبور از نقطه صفری، از طرف آن آمریت ثبت و راجستر شد و نیازمندیهای ایشان رفع گردید.**

**آمر سرحدی افزود که افراد یادشده به همکاری دفترIOM، به قندهار انتقال و جهت دریافت مساعدتهای بشری، به دفتر مذکور معرفی نموده است. گفتنی است که**

به اثر سعی و تلاش سفارت افغانستان واتشه امور مهاجرین در اسلام آباد، تا کنون صدها افغان، از محابس پاکستان آزاد و به کشور انتقال شده اند.

## شاوخوا دوه زره  افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

دوزارت ویب سایت



د نیمروز ولایت  د اسلام قلعه او نیمروز ولایت د وربښمو پل  له لارې د ایران څخه  د مرغومي  په  ( ۱۹) مه او (۲۰) مه  (۱۸۷۲) تنه افغان مهاجرینو هېواد ته راستانه شول.

د نیمروز  او هرات ولایت  د مهاجرینو چارو ریاستونو د مسؤلینو د معلوماتو له مخې  ( ۱۰۲۲) تنه د هرات او ( ۸۵۰) تنه د  نیمروز ولایت د وربښمو پل له لارې هېواد ته راستانه شوي،چې له دلې یې (۱۳۶) تنه د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM)  او دوه تنه رد مرز شوي ماشومان د (WARCHILD) دفتره ته ور وپېژندل شول.



Website: https://morr.gov.af
Fb page: https://m.facebook.com/morr.gov

## بیش از 500 خانواده در ولایات سمنگان وهرات مساعدت نقدی شد

ویب سایت وزارت



**برای 365 خانواده در ولایت سمنگان، مساعدت نقدی موسسه ACTION AID، وبرای 200 خانواده، در ولایت هرات کمک دفتر IOM بتاریخ 20 جدی توزیع شد.**

**کمک یادشده در ولایت سمنگان، در کتگوریهای ( 17 هزارو ۶۰۰ ، 26 هزراو 150، و29 هزار و 400 افغانی ) جهت ساخت و ترمیم سر پناه برای خانواده های مذکوردر ولسوالی های روی دو آب و خرم سارباغ آنولایت، وکمک دفتر IOM ، که برای هر خانواده خانواده، 200 دالر بود، برای مستحقین در شهر هرات و ولسوالی انجیل توزیع شد.**

## ګارډین: د ګواښونو سربېره پاکستان سلګونه افغان کډوال له خپلې خاورې ایستلي دي

مهاجرنیوز




د ګارډین ورځپاڼې په یوه تازه راپور کې راغلي دي چې واک ته د طالبانو له رسېدو راهیسې څه باندې ۲۵۰ زره افغان کډوالو پاکستان ته پناه وړې ده. خو ډېری دغه کسان پاکستان کې د اخراج او یا زنداني کېدو له ګواښ سره مخ دي .

د ګارډین په راپور کې راغلي دي چې یوازې په تېرو دریو ورځو کې تر ۶۰۰ ډېر افغان کډوال له پاکستانه ایستل شوي دي او سلګونه نور د اخراج له ګواښ سره مخ دي.

زیاته شوې چې د تېرې شنبې په ورځ د پاکستان له سپند څخه ۳۰۲ کډوال خو د دوشنبې په ورځ بیا ۳۰۳ تنه نور چې په ډله کې یې ۶۳ ښځې او ۷۱ ماشومان هم وو افغانستان ته استول شوي دي. ټاکل شوې ده چې ۸۰۰ تنه نور په راتلونکو ورځو کې افغانستان ته واستول شي.

ګارډین زیاتوي چې واک ته د طالبانو له رسېدو راهیسې څه باندې ۲۵۰ زره افغانان پاکستان ته تللي دي.

پاکستاني چارواکو تېر اوړی د هغو کډوالو د ایستلو لړۍ پیل کړه چې د اسنادو پرته دغه هېواد ته ننوتلي وو، خو د ۲۰۲۲ له اکتوبر راهیسې د افغان کډوالو نیول او بندي کول تر پخوا ډېر شوي دي. د ګارډین په راپور کې د مدافع وکیلانو له قوله ویل شوي دي چې یوازې کراچۍ او حیدرآباد ښارونو کې د ۱۲۹ ښځو او ۱۷۸ ماشومانو په ګډون ۱۴۰۰ افغانان زندان ته اچول شوي دي.

بیا ولولئ :پاکستان: د کراچۍ ښار پولیسو ۱۱ نور افغانان نیولي

کراچۍ ښار کې د بشري حقونو مدافع وکیلې مونیزه کاکړ ګارډین ته ویلي دي چې د نیول شویو افغانانو له دلې ۴۰۰ تنه یې ویزې او د اوسېدو کارتونه لري چې د پولیسو له خوا د هغوی د نیول کېدو سره سم ضبط شوي دي.

»انساني دریځ«

بل پلو د پاکستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون مشره فرح ضیا له افغانانو او په ځانګړي توګه له ښځو او ماشومانو سره پر ناوړه چلند نیوکه کوي. دغه کمېسیون تېر کال د پاکستان له حکومت څخه غوښتي وو چې د افغان کډوالو پر وړاندې «انساني دریځ» خپل کړي.

په راپور کې د یوې افغانې پناه غوښتونکې له قوله راغلي دي چې وایي د شپې «خوب نه لري». هغه چې مېړه یې په پخواني دولت کې دنده درلوده او اوس په افغانستان کې پټ ژوند کوي وایي «کابل ته تر ستنېدا په زندان کې مرګ» غوره ګڼي ځکه افغانستان کې سا نه شي اخیستلی.

بیا ولولئ :<u>په افغانستان کې د بهرنیو موسسو بندېدل د بې ځایه شویو پر ژوند څه اغیزې لري؟</u>

په ورته مهال د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداري ویاند قیصر خان افریدي ویلي دي چې دوی هڅه کوي چې د ښځو او ماشومانو په کډون د اړمنو کسانو دوسیې وڅېړي او هغوی ته پاکستان کې د مېشتېدو زمینه برابره کړي. خو هغه زیاته کړې چې «د ټولو کډوالو مېشتول شووني نه دي.«

بل لور ته بیا د سپنډ چارواکي وایي چې حکومت یوازې د ناقانونه کډوالو پر ضد اقدامات کوي، هغه کسان چې د سفر د معتبرو اسنادو پرته پاکستان کې ژوند کوي.

د پاکستان په زندانونو کې د افغان کډوالو او په ځانګړي ډول د ښځو او ماشومانو وضعیت د بشري حقونو سازمانونو اندېښنه راپارولې ده. څه موده مخکې پر خواله رسنیو داسې ویډیوګانې خپرې شوې وې چې پکې ادعا شوې وه چې د کراچۍ ښار په زندان کې یو شمېر ماشومان او مېرمنې په سخت حالت کې شپې او ورځې تېروي

## په یونان کې د سمندري ژغورونکو محاکمه

مهاجرنیوز




**د یونان په لیسبوس ټاپو کې د سه شنبې په ورځ د ۲۴ سمندري ژغورونکو پر ضد محاکمه پیل شوه. یاد شمېر ټول کسان د بشري مرستو د سازمانونو همکاران دي.**

**د یونان په لیسبوس کې د هغو ۲۴ کسانو محاکمه پیل شوه چې وربانديې د انسانانو د قاچاق، جاسوسۍ او تورو پیسو د مینځلو تور دی. تورن کړل شوي ټول کسان د بشري مرستو د سازمانونو غړي دي .په تورنو کسانو کې د نورو تر څنګ د سوریې د مهاجرو مرسته کوونکې سارا ماردیني هم شامله ده. د یونان د دولتي رسنیو په حواله د یادي مرستندویې وکیلان د هغې استازیتوب کوي.**

**د درو غیر دولتي سازمانونو پر یادو غړو تور دی چې آژه سمندر په ختیځ کې واقع لیسبوس ټاپو کې یې قاچاق کاوه. د پولیسو د تور له مخې دغو کسانو په سیستماتیکه توګه له ترکیې څخه و یونان ته د مهاجرو د رسېدلو په برخه کې مرسته کوله. پر هغوی تور دی چې د یونان د سرحدي ساتونکو مخابره یې اورېدله او و هغو مهاجرو ته یې د سرحدساتونکو د ګښتیو حدود و اربعه ښودله چې غوښتل یې له ترکیې څخه یوناني ټاپو ته ځان ورسوي. د تورنو کسانو مدافعې یاد تورونه بې بنیاده بللي دي.**

**د آلمان خبري آژانس د راپور له مخې د یونان پولیسو هغه وخت د غیر دولتي سازمانونو و فعالیتونو ته متوجه شول، کله چې یې د چارواکو په وینا په ۲۰۱۸ کال د دغو سازمانونو دوه غړي ونیول ولې چې د یونان د پوځ په جعلي نمبر پلېټونو سره یې په لیسبوس کې یو موټر چلولی. د دغو نیونو وروسته څو میاشتي پرله پسې د اړونده سازمانونو څارنه او په هکله یې پلټنې وشوې .**

**په تورن کړل شوو کسانو کې د نېټ فلیکس له ډارمې «لامبو کوونکې» مرکزي کردار سارا ماردیني هم شامله ده. دغه مېرمنه او د هغې خور یسرا ماردیني په ۲۰۱۵ کال د سوریې د مهاجرو په حیث د رسنیو د سرټکو موضوع وګرځېدې. هغوی څو ساعته پرله پسې د مهاجرو د یوې داسي کښتۍ رسۍ په لامبو کولو سره څو ساعته تر لیسبوس ټاپو پورې کش کړې وه، کوم چې په سمندر کې په اضطراري حالت کې راغلې وه. یادې دواړې خوېندې وروسته په آلمان کې مېشت شوې.**

## انسه: پاکستانی لاری چلوونکی د کډوالو د انتقال په تور نیول شوی

مهاجرنیوز




**د فرانسې د ګپ سیمې څارنوالي وایي هغه موټر چلوونکی یې نیولی دی چې شاوخوا دوه اونۍ مخکې له اوونسون سیمې څخه په تېښته بریالی شوی و. فرانسوي خواکونو د ډېسمبر په ۳۰مه د نوموړي په موټر کې ۳۳ کډوال موندلي وو .**

**د ګپ څارنوال فلوران کرویې د فرانسې خبري اژانس ته ویلي دي چې دغه سړی چې ۲۲ کاله عمر لري او د پاکستان اصلي اوسېدونکی دی د تېرې جمعې په ورځ د پاریس په شاوخوا کې نیول شوی دی .**

**هغه زیاته کړې ده چې نوموړي د ژاندارمرۍ ځواکونو له رسېدو سره سم له نورو کډوالو سره یو ځای د لارۍ تر شا پټ کړی و. خو لږ وروسته په تېښته بریالی شو.**

بیا ولولئ :فرانسه: د افغانانو په ګډون ۳۳ کډوال آلپ غرونو ته نږدې موندل شوي

ښاغلي کرويي ويلي دي چې دغه پاکستانی فرېژوس تونل کې د امنيتي کمرو د انځورونو په مرسته موندل شوی دی. په وينا يې نوموړي د نيول کېدو پر مهال د پېښې مسوليت منلی دی.

تر دې دمخه د هوت الپ قومندانی د فرانسې خبري اژانس ته ويلي وو چې د نيول شويو په ډله کې افغانان او ځينې هنديان شامل دي .سرچينې زياته کړې وه چې دغو کډوالو قانوني اسناد نه درلودل.

ټاکل شوې ده چې نيول شوی کس د راتلونکي مې مياشتې په ۱۱مه فرانسې ته د بهرنيانو د انتقال له کبله د ګپ محکمه کې حاضر شي .

بیا ولولئ :فرانسه: لارې کې د موندل شويو ۲۹ کډوالو له ډلې ۲۴ تنه يې د اخراج له ګواښ سره مخ دي

هر کال ګڼ شمېر کډوال چې په ډله کې يې افغانان هم دي د آلپ غرونو او يا د ايټاليا له سرحدي ښارونو څخه فرانسې ته د راتګ هڅه کوي. پر دغه خطرناکه لاره يو شمېر کډوالو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

## آلمان سياستوال: مهاجر ماشومان بايد له ښوونځي مخکې د آلماني ژبې په زدکړه مکلف شي

مهاجرنيوز



© Monika Skolimowska/dpa/picture alliance

د آلمان د مسيحي دموکرات اتحاد عمومي منشي ماريو زايا ويلي دي چې صرف هغه مهاجر ماشومان دې ښوونځيو ته داخل کړل شي چې آلماني يې زده وي.

ماريو زايا ويلي دي چې د دې په حق کې دی چې د آلمان د ښوونځيو په انګړونو کې صرف په آلماني ژبه خبري وشي. هغه ويلي دي چې په آلمان کې د بهرنيو کورنيو د ادغام پروسې د چټکولو لپاره دا ګام مهم دی.

هغه ویلي: «دلته دا خبره نه ده مطرح چې د آلمان د ښوونځیو په انګړونو کې د آلماني علاوه په نورو ژبو خبرې وشي.» نوموړي دا څرګندونې د آلمانی ورځپاڼې «وېلټ» سره په مرکه کې کړي دي. د هغه په وینا عموما باید هیڅ داسي ماشوم ته په ښوونځي کې داخله ورنکړله شي چې آلماني یې نه وی زده.

نوموړي وړاندیز کړی دی چې پر ځای یې باید بهرني ماشومان په کودکستانونو او یا ښوونځي مخکې کورسونو کې د ژبې په زدکړه مکلف کړل شي.

د آلمان د یاد سیاستوال له خوا غوښتنه شوې ده چې په زیاته په هغو سیمو کې چېري چې زیات مهاجر ژوند کوې، هلته باید چې د ښوونځیو د ملاتړ لپاره لا زیات ترجمانان او ټولنیز مرستندویان په کار وګومارل شي.

د دغه آلماني سیاستوال په وینا یاد مرستندویان باید د ښوونکو سره مرسته وکړي چې «زده کوونکي زموږ په ژبه (آلماني) خبرې وکړي. کنه نو به په ښوونځي کې لا موازي ټولنې رامنځته شي.» د هغه په وینا په دې ترڅ کې باید زیاته توجه پر هغو ښوونځیو متمرکزه کړل شي چې په اقتصادي توګه په کمزوره سیمو او ټولنیزو لانجمنو مراکزو کې واقع دي.

## آلمان کې د پناه غوښتنې شمېرې کرونا مخکې اندازې ته زیاتې شوې

مهاجرنیوز




د آلماني رسنیو د راپورونو له مخې په آلمان کې د پناه غوښتنې شمېرې د کرونا پاندمي وخت مخکې هسکو څوکو ته زیاتې شوې دي.

د «وېلټ» په نوم آلماني ورځپاڼې په آلمان کې د پناه غوښتنو په تړاو د شمېرو په هکله یو راپور خپور کړی دی. په دغه راپور کې راغلي دي چې په آلمان کې په ۲۰۲۱ کال چې د کرونا پاندمي دویم کال کېږي، د پناه غوښتنو شمېر هغه سویې ته جګ شوی لکه له پاندمي مخکې کال کې چې و. یادې ورځپاڼې دغه راپور د ۲۰۲۱ کال لپاره د آلمان د حکومت د مهاجرت په تړاو راپور په حواله د چهارشنبې په ورځ (د ۲۰۲۳ کال د جنوری ۱۱ نېټه) خپور کړی دی .

د راپور له مخې د ۲۰۲۰ کال په پرتله په ۲۰۲۱ کال په آلمان کې د پناه غوښتنو شمېر کې ۴۵ فیصده زیاتوالی راغلی. زیاته شوې چې په ۲۰۲۱ کال په ټولیزه توګه تقریبا ۱۰۵ زره ویزې هم اجرا شوي دي. یعني په یاد شمېر بهرنیانو ته و آلمان ته د راتګ ویزې ورکول شوې. په دې توګه نو یادې شمېرې دومره زیاتې شوي دي چې له پاندمي مخکې وخت سویې ته نژدې شوي دي .د آلمان د حکومت یاد راپور د چهارشنبې په ورځ تصویب کېږي او یادي رسنۍ ته یې جزیات تر مخه رسېدلي دي.

په راپور کې راغلي دې چې په ۲۰۲۱ کال په ټولیزه توګه ۱،۳ ملیونه بهرنیان آلمان ته راغلي چې ورځخه ۵۰۰ زره کسان یې د اروپا څخه دباندې سیمو سره تړاو لري. زیاته شوې ده چې په یاد شمېر بهرنیانو کې ۴۰ زره یې مسلکي کسان دي.

د مسلکي کسانو د شمېر په هکله ویل شوي دي چې په ۲۰۲۱ کال د مخکني کال په پرتله و آلمان ته د راتلونکو مسلکي کارګرو په شمېر کې ۳۵ فیصده زیاتوالی راغلی. خو دا چې په ۲۰۱۹ کال و آلمان ته تقریبا ۶۴ زره مسلکي کارګر راغلي ول، نو په ۲۰۲۱ کال بیا هم د ۲۰۱۹ په پرتله د راغلو مسلکي کارګرو شمېر کمتره و. و آلمان ته د راغلو دغو کسانو څخه د اکثریت یې له هند، لوېدیځ بالقان دولتونو، ترکیې، امریکا متحده ایالاتو او چین څخه یاد شوي دي.

په راپور کې راغلي دي چې په ۲۰۲۱ کال د مخکنیو کالونو په پرتله د آلماني تابعیت ترلاسه کوونکو شمېر هم زیات شوی، خو په کمه اندازه. ویل شوي چې یاد شمېر د ۲۰۲۰ کال د ۱۲۹ زرو په پرتله و ۱۳۲ زرو ته پورته شوی دی. د راپور له مخې تر ټولو زیات تابعیت سوریایانو تر لاسه کړی دی چې شمېر یې تقریبا ۲۰ زره دی. اټکل کېږي چې اکثریت یې هغه سوریایان دي چې په ۲۰۱۵ کال آلمان ته رامهاجر شوي ول .

## فرانسه: یو کډوال چې د اورګاډي سر ته ختلی و د برېښنا شارټۍ له امله مړ شوی

مهاجرنیوز




د فرانسې په سوېل ختیځه سیمه کې د تېرې دوشنبې په ورځ یو تن چې د اورګاډي سر ته ختلی و د برېښنا د شارتۍ له امله مړ شوی دی. د سیمې د قومندانۍ په حواله ټولې نښې نښانې داسې ښيي چې دغه سړی کډوال و .

د کډوالو د ملاتړ سازمان رویا سیتوین د تېرې دوشنبې په ورځ نیس متن ورځپاڼې ته وویل: «د پولو د تړل کېدو له کبله یو ځل بیا مرګوني پېښه رامنځته شوه.» دغه سازمان زیاته کړې: «یو کس چې یوازې د یو ښه ژوند په لټه کې و د برېښنا د ښارتۍ له امله ومړ. له دې سره پر دغه خونړۍ پوله د مړو شمېر ۵۰ تنو ته رسېږي«.

دغه ۳۰ کډوال د فرانسې د نیس ښار د اورګاډي تمځي کې خپل ژوند له لاسه ورکړ.

په ورته مهال د عامه خوندیتوب سیمه ایزې ادارې نیس متن ته ویلي دي چې د پېښې په اړه پلټنې پیل شوې دي.

د ۲۰ مینیوت سایټ په حواله وروسته له هغه چې د ماښام په ۶ بجو او ۱۰ دقیقو د پېښې په اړه چارواکو ته اطلاع ورکړل شوه، روغتیایي کارکوونکي د پېښې سیمې ته ورسېدل.

دا لومړی ځل نه دی چې د ایټالیا او فرانسې پر پوله ورته پېښې رامنځته کېږي. ویل کېږي چې تر اوسه لږترلږه درې کډوال چې غوښتل یې د ایټالیا څخه فرانسې ته ځان ورسوي د برېښنا د شارټۍ له امله مړ شوی دی.

بیا ولولئ :فرانسه: هغه کډوال چې د اورګاډي سر ته ختلی و د برېښنا د شارټۍ له امله مړ شوی

د ۲۰۲۱ په سپټمبر میاشت کې یوه بنګله دېښي ونتمیل ښار ته نږدې د برېښنا له کبله خپل ژوند له لاسه ورکړ. د ۲۰۲۱ په نومبر میاشت کې د ساحل عاج یو ۲۱ کلن اصلي اوسېدونکی چې مانتون ګاراوان اډه کې د اورګادي سر ته ختلی و د برېښنا د شارتۍ له امله ټپي شو. دغه راز د ۲۰۲۲ په فبرورۍ میاشت کې د یوه ځوان کډوال مړی د اورګاډي په تمځي کې وموندل شو .